# ایا کاناډاته نوی راغلی یاست؟

## د کتابخاني غړیتوب وړیا تر لاسه کړی

### د خپل ماشوم سره مو مرسته وکړي تر څو په ښوونځي کی بریالی شی

- په کور کی د لوستلو د پاره کتابونه په امانت واخلی، په کتابخانه کی په انګلیسي او ډیرونورو ژبو کتابونه شته. وماشوم ته مو دکتاب لوستل په هره ژبه چی وی ، د هغه د انګلیسي ژبی په زده کولو کی مرسته کوی.
- د دوبي په موسم کی مو ماشوم تشویق کړی ترڅو د کتابخانی د دوبی د لوستلو په کلب یا او نورو پروګرامونو کی برخه واخلي.
- د کتابخاني کارکوونکي کولاي شي ستاسو د ماشوم سره د هغه د ښوونځی په کارونو او پروژو کی مرسته وکړي.

### د نوي راغلو کسانو د پروګرامونو (خپرونو) په هکله معلومات لاس ته راوړی

- د نوي راغلو کسانو د پاره ددولتي او کمیونیټي وړیا پروګرامونو په هکله معلومات لاس ته راوړي
- کتابونه او کسټونه په امانت واخلي تر څو وکولاي شی د انګلیسی ژبي په زده کړه کی کار تری واخلی.

### د کار پیدا کولو په هکله معلومات لاس ته راوړي

- د کار پیدا کولو اوکارپلټنی په هکله معلومات تر لاسه کړی. کتابخانه د ډیرو مسلکونو په هکله معلومات لری.
- د تعلیمي او مسلکي اسنادو په هکله معلومات لاس ته راوړي.
- دا چی څنګه د کارکولو د پاره خپل اسناد ارزښت یابی کړي او یا د مختلفو مسلکونو په هکله کولای شی د کتابخانی څخه معلومات واخلی.

### په ډیرو ژبو باندي د کتابونو، سی ډی ګانو، او ویډیو کسټونو په امانت اخیستل

- کتابخانه په ډیرو مختلفو ژبو باندي ډیر کتابونه، کسټونه، سی ډي ګانی، مجلی او ورځپاڼی لری.

### د کمپیوټر او انټرنټ څخه کار واخلی

- په وړیا توګه د انټرنټ څخه استفاده وکړی.
- د ټولی نړی څخه خبرونه په ډیرو ژبوولولی
- د انټرنټ څخه استفاده کول، د ایمیل (بریښنا لیک) استول، او د کتابخانی څخه استفاده کول زده کړی.

### د خپلی کورنی سره خوشحاله وخت ولری

- د کتابخانی دکورنی په پروګرامونوکی لکه < د قصی لوستل> ګډون وکړی
- په هغه پروګرامونو کی برخه واخلی چی ستاسی د انګلیسی په زده کړه او په کاناډا کی د ژوند کولو په هکله مرسته وکړی.
- زموږ د ایر کانډیشن داره کتابخانو څخه خوند واخلی.

### د کتابخانی غړیتوب

- د کتابخانی دغړیتوب دپاره لاندنی اسنادپه کار دی:
  - د هویت رسمی کارټ – یو عدد
  - دخپلی پتی (ادرس) سند لکه د تیلفون بل، د اوبو بل او یا هم د تلویزیون د کیبل بل
- ماشومان کولای شی ځانته د کتابخانی جلا کارټ ولری.

Join the Library.  It's Free.      Pashto